مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۳/۱۲/۰۵

# حشمت الله شهيدي:
# زموږ اصلي موخه، د کرېکټ په نړيوال سټېج کې دريدل دي

ولي الله ملکزی (سکرمنتو/ کليفورنيا)



د افغان کريکټ د ملي، سوبمن او وياړمن تيم کپتان، حشمت الله شهيدي له پاکستان څخه د تازه راغلو کډوالو د لومړنيو بشري مرستو د راټولو په خاطر کليفورنيا ته راغلی دی. نوموړي تيره اونی د سټاکټن او لاس انجلس په لويو ښارونو او د اريزونا په ايالت کې د ميشتو افغانانو سره وليدل او په کافي اندازه مرستې يې را غونډې کړې.

پرون ماښام د سکرمنټو په ښار کې نژدې پنځه سوه تنو افغانانو دا الهام ښونکي ځوان کپتان د ملي سرود په غږولو او د ګلانو په شيندلو سره بدرګه کړ. ګڼو مينه والو د پوډيم د پاسه د هرکلي ويناوې او د همکارۍ ژمنې وکړې او د يوې ګړۍ په ترڅ کې، ۱۶ زره ډالره بسپنه راټوله شوه. د غونډې په پای کې، ما د کلتوري ټولنې د اجرائيه بورډ د غړو په شتون کې د حشمت الله شهيدي سره د هغه د سفر د انګيزې، شخصي ژوند او د تيم د راتلونکي اړوند يوه مرکه وکړه چې ستاسې خدمت ته يې وړاندې کوم.

امريکا ته پخپله راغلی يې، که چا رابللې يې؟

(زما سفر، زما د خپلې ارادې او تصميم له مخې دی او کومه رسمي بڼه نه لري؛ البته په دې وروستيو کې هيواد ته د راستنو شوو کډوالو سره د مرستو د برابرولو او د هغوئ د پيغام د رسولو په خاطر راغلی يم. زه دلته د مسافرو هيوادوالو سره د ليدنو کتنو څخه ډير خوښ، له پايلو څخه يې راضي او د خپلو وطنداړانو په سترګو کې له وطن سره د مينې ځرک وينم. د دوئ مينه او ملاتړ ما هڅوي چې لاډير څه وکړم او د سپورتي فعاليتونو ترڅنګ د بشري مرستو په راغونډولو کې خپلې مندې تررې لا ګړندی او پراخه کړم).

ژوند د هيلو يوه نه ختميدونکې لړۍ او يو ستومانه سفر دی؛ د چا لپاره تلپاتې خوښي او د چا لپاره هميشنی غم وي. نو ته راته ووايه چې ستا د ژوند ترټولو نه هيريدونکې ښې شيبې او همدارنګه تر ټولو بده او ناخوالې پيښه کومه ده؟

(رښتيا هم چې ژوند د مجادلې او لوړو او ژورو دوهم نوم دی. زما په ژوند کې ترټولو بده او ناخوالې خاطره، زما د مور او پلار مړينه ده. بله بده خاطره مې د استراليا په وړاندې، د ډير فوق العاده پرفارمنس سره سره زموږ ماتې راتلل دي. البته زما د ژوند نه هيريدونکې او احساساتي شيبه د پاکستان د ځواکمن تيم په وړاندې بريا او هغوئ ته د ماتې ورکول دي).

د لسګونو مشهورو سپورتي لوبو له منځ څخه دې ولې کريکټ غوره کړ او دې مقام ته څرنګه ورسيدلې؟

(زه ډير کوچنی ووم چې زما مشرانو ورونو او د کورنی دوستانو به لوبه کوله او زه به يې ننداری ته ناست ووم؛ سوکه سوکه مې تلوسه زياتيدله او د يو بې تعبيره خوب په ډول مې دغه لوبه پيل کړه. هغه مهال هيڅ امکانات نه وو، په هيواد کې د کريکټ لپاره کوم رسمي ادرس او دفتر هم نه وو. خو زما شوق، له وطن سره بيدريغه مينه او د وطنوالو د خوشحالولو احساس ټول هغه لاملونه وو چې زه يې دې ډګر ته دننه کړم. د مقام په اړه به همدومره ووايم چې د الله تعالی توفيق، د کورنی تشويق، د روزونکو پالنه او زما بې حده زحمت نن زه دې ځای ته را رسولی يم. حقيقت خو دا دی چې ما خپل ځان او خپل وخت کريکټ ته وقف کړی او له دې لوبې سره زما مينه هيڅ حد او سرحد نه لري).

ځينې خلک انګيرې چې ګوندې کريکټ د يو سمت او د يوې ژبې د خلکو لوبه ده؛ نو آيا خبره همداسې ده که فکر کوې دا د يوې کرکجنې کړۍ يو عيبجن تور دی؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

(بالکل، دا یو چورلټه تور او بې بسنته بهتان دی. همدا اوس زموږ په ټیم کې د هیواد د شمال، جنوب، لویدیځ او ختیزو ولایتونو تکړه لوبغاړي حضور لري. بله دا چې د کریکټ بورډ په ټولو ۳۴ ولایتونو کې دفترونه، ټیمونه او روزونکي لري. دلته د هر لوبغاړي چانږ او غوراوې د هغه د وړتیا، سابقې، فعالیت او اهلیت له مخې ترسره کیږي. د ټیم د غړیتوب لپاره د هرچا د شالید له ارزولو وروسته، د منلو او ردولو پریکړه کیږي. زموږ ټیم په ټوله معنا یو ملي، هیواد شموله او بې پرې مسلکي ټیم دی).

له نن څخه پنځه کاله وروسته به د افغانستان د کریکټ ټیم د نړیوالو ټیمونو په کتار کې د زینې په کوم پاټکي او پوړۍ ولاړ وي؟

(کوم فعالیت او وړتیا چې موږ د نړیوال کپ په دې سیالیو کې ښودلې، قوي لوبډلې مو ماتې کړې او حتی د هغو په وړاندې هم چې موږ یې مات کړي یو، تر آخري بال (پینډوس) پورې مو ورسره ډغره ووهله. نو د همدې ظرفیت له مخې، ویلای شم چې ان شاء الله پنځه کاله وروسته به موږ د دې جوګه یو چې فاینل یا سیمي فاینل پوزیشن ته ورسیږو. ولې باید په ډاګه کړم چې زموږ غټ او مهم هدف د کریکټ په نړیوال سټیج کې د افغانستان درول دي.

اوس ټول دا مني چې په دې سیالیو کې موږ یو نوم او برم ترلاسه کړ او هرڅوک راباندې حساب کوي چې دا یو عادي او معمولي ټیم نه دی. زما پوره باور دې هره ډله چې په راتلونکې کې به له موږ سره مخ کیږي، نو حتما به دا اندیښنه ورسره مل وي چې دوئ له چا سره لوبیږي؟).

چشم بد دور، ته یو ۲۹ کلن ګلالی ځوان یې او د شهرت انګازې دې ډېر لیرې تللي دي. زموږ په ټولنېز عُرف کې چې یوه کورنی کوم منلي ځای او حیثیت ولري نو خلک ورسره د خپلوۍ او واده بهانې لټوي. نو آیا ته له داسې کوم حالت سره مخ شوې یې او د بل واده دا ګونګسې له کومه ځایه دي؟

(باید په خوښۍ سره ووایم چې ما نهه کاله وړاندې په تنکۍ ځوانۍ کې واده کړیدی؛ الحمد لله دوه زامن او یوه لور لرم او دا ګونګسې په کلکه ردوم چې ګوندې زه به بل واده وکړم. زه په خپل کورني ژوند راضي او بېخي قانع یم).

د یو بریالي او ویاړمند ځوان په صفت چې د کریکټ د نړۍ په مهمو لوبغاړو کې شمیرل کیږې، ته خپلو همزولو ځوانانو ته څه ویل غواړې؟

(ګوره؛ الله تعالی ټولو انسانانو ته راز راز وړتیاوې او صلاحیتونه ورکړیدي، دوئ باید هغه په کار واچوي او هیڅکله مایوسه او نهیلي نه شي. ژوند یوه جګړه ده او بریې د هغه چا نصیب کیږي چې د مقابلې هنر زده کړي او د صبر لمن پرینږدي. زما یقین دی چې هر مزل یو منزل لري او د انسان ستر دښمن ډار او مایوسۍ ته تسلیمیدل دی. که ولیدل شي چې په یوې ټولنې کې یو تن ډېر کامیاب او ښه ځلیږي، نو باید ومنل شي چې دغه بریا به وړیا او میراثي نه وي، بلکې هغه یا هغې به ډیرې شپې رنې کړې وي، خواري به یې کړې وي او دغه ځای ته به رسیدلي وي. په الله تعالی متوکل واوسې او پام چې حوصله ونه بایلې).

---

یادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نورې لیکنې او څیړنې د هغه په فیسبوک او یوټیوب چینل کې ولولي او وګوري.

ادرس یې دا دی: Wali Malakzay



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ